سپېڅلي کردارونه

# مولانا محمد عنایت الله

# ټول په ټول خدائي خدمتګار

م- ر- شفق

مولانا عنایت الله صاحب (زما والد محترم) یو باعمله عالم او په صحیح معنو کښې خدائي خدمتګار ؤ، خپل ټول ژوند ئې په دغو دواړو حېثیتونو کښې تېر کړے ؤ. د الله تعالٰي د رضا دپاره ئې د دین خدمت او د پښتون اولس د اصلاح او خېر ښېګړې وظیفه ښه په اخلاص او راستۍ ترسره کوله.

مونږ مینه وکړه او مونږ حسن پرستي پرې نۀ ښوه ډېر کۀ په بټ کښې د حالاتو ورتېدل وختونه

(اندېش)

په ۲۵ جون ۱۹۹۵ء د اتوار په ورځ سحر پنځویش منټه د پاسه اووۀ بجې ئې ښۀ په ارام او ذهني سکون ساه ورکړله. انا لله و انا الیه راجعون. په دغه ورځ د مازیګر نمانځۀ نه پس د کلپانۍ په غاړه لوئے مېدان کښې یوه عظیمه الشانه جنازه وشوه. د طورو او ګېرچاپېر علاقو په زرګونه مینه وال پکښې شریک شول. مولانا سعیدالله جان صاحب (هوتي مردان) د جنازې امام ؤ او وروستو چې ډېرې قبرستان کښې د علم او معرفت، ادب او سیاست دا روښان شخصیت لحد ته کوزولے شۀ نو قبلې اړخ ته نمر هم په غرغره ؤ او شفق سُور کفن اغوستے آخري سلګۍ ئې وهلې.

لحده نیسه ئې قرار په غېږ کښې
یو زارۀ چاؤدے او خُوږمن درسپارو
چې ئې زخمونه دي د ستورو په شمېر
د کهکشان غوندې یو تن درسپارو

(درویش دراني)

خوشنوا خطیب مولانا سعیدالله جان په



ارمانجنه لهجه کښې خپل درونډ خوږ مشر ملګري ته د عقیدت پېرزوینې وړاندې کولې. وئیل ئې:

"د مولانا صاحب جدائي زمونږ دپاره یوه دردناکه سانحه ده. د دوي وفات د یوې کورنۍ کلي محلت یا ښهرېې غم نۀ دے، د تمامي علاقې نقصان دے. مولانا صاحب د شدید جسماني عوارضو او مالي مشکلاتو باوجود د خپل دین اسلام خدمت ته ملا تړلې وه. ټول ژوند ئې په درس او تدریس کښې تېر کړو. د مولانا صاحب ذات د

ګڼو اوصافو مجموعه وه. دے د لوړې پائې مقرر ؤ. يو اعلي محرر ؤ او بې مثاله مفسر ؤ. مولانا د خطيب او اديب په حېثيت يوه يوه لمحه د دين او قام خدمت ته ورکړې وه. د مولانا صاحب په تلو چې کوم شديد کمے را پېښ شوے دے، د دې احساس صرف د دين يو عالم کولے شي. الله پاک دې د هغهٔ قبر باغچه د جنت د باغچو وګرځوي.

خدايه څهٔ شو هغه ښکلي ښکلي خلق
په ظاهر په باطن سپين سپېځلي خلق

(رحمان بابا)

د پښتو عظيم شاعر، قامي او سياسي لارښود (سپنېتر) اجمل خټک هم د خپل دې پخواني رفيق په مزار د مينې او احترام ګلونه وشيندل. ماښام ته وخت رالنډ ؤ نو ځکه دوي خپله وېنا هم په يو څو جملو کښې راغونډه کړله. اجمل خټک ووې:

"مولانا عنايت الله يو نومړے عالم دين، د لوړې پايې اديب او خطيب، بزرګ خدائي خدمتګار او د آزادۍ مجاهد ؤ. د عالم دين په حېثيت هغه د قدر وړ خدمات ترسره کړي دي خو د هغهٔ قامي او سياسي خدمات هم څوک نهٔ شي هېرولے.

مولانا صاحب نهٔ يواځې د دين د ښېګړې او د اسلام د سرلوړۍ دپاره جدوجهد کړے ؤ، بلکې د خپل بدنصيبه قام د دنياوي ژوند ښائسته کولو دپاره ئې ډېر کړاوونه زغملي وو. د برطانوي تسلط خلاف ئې جهاد کړے ؤ، د پښتون قام عظيم حسن باچا خان سره ئې ملا تړ کړے ؤ، د خپلو ماشومانو بچو محبتونه ئې قربان کړي وو. د قېد و بند سختۍ ئې تېرې کړې وې، ولې په يوه مرحله کښې ئې نهٔ ګيله کړې ده او نهٔ ئې چرې شکايت کړے ؤ، هر ځنګه حالاتو کښې ئې د صبر زغم او استقامت مظاهره کړې ده. هغه به سياسي ماشوړو سمولو کښې زمونږ مدد او لارښودنه کوله، هغهٔ سياست د قام خدمت او عبادت ګڼلو، يو نېک، شريف او بې غرضه انسان ؤ، د نوي نسلونو ذهني تربيت کولو کښې به د مولانا ژوند د يو مثال په توګه پېش کولے شي. سختو ازمېښتونو کښې هم هغهٔ د الله تعالٰي نه سېوا، نهٔ چا ته ټيټ شوے دے او نهٔ خرڅ شوے دے. الله پاک دې ورله جنتونه ورکړي او د هغهٔ درجې دې نورې لوړې کړي. (آمين)

محترم اجمل خټک (د عوامي نېشنل پارټۍ صدر) او د خان عبدالولي خان کشر زوی، سنګين ولي خان، د نورو يو څو خدائي خدمتګارانو په ملګرتيا کښې د آزادۍ او خدائي خدمتګارۍ د نشان د مولانا صاحب په مزار سُور څادر خور کړلو او په جمع فاتحه ولوستلې شوه او اوس د مولانا د قبر په خازه ليکلے شوے، اسرار د طورو (د اروابناد مشر زوئے) دا شعر عقيدتمندانو ته د فکر بلنه ورکوي:

زما په قبر باندې ماچوئ څادر د ګلو
ما په کفن کښې دې راوړي د پښتو ګلونه

مولانا صاحب چې څلورم جماعت پاس کړو نو د مور په مشوره ئې ديني تعليم زده کولو ته مخه وکړه. په وړومبي دور کښې ئې ديني کتابونه د خپل ترهٔ مولانا محمد اسماعيل صاحب (چې وروستو ئې بيا سخر هم شهٔ) د دغه ترهٔ مشر زوی مولانا حافظ لطف الرحمان (فاضل ديوبند) مولانا حافظ احمد شاه (د حافظ محمد ادريس پلار) او په خصوصي توګه مولانا قطب الدين غورغوشتي نه وئيلي وو. دے د مولانا صاحب د پلار مولانا عبدالجميل

صاحب همدرس پاتې شوي وو نو ځکه مولانا قطب الدين صاحب، د دې هلک علمي او روحاني روزنه لکه د خپل سکه اولاد په شان وکړله. د دوي په سپوري کښې ئې علمي ذوق او د لوستنې شوق دومره زيات شۀ چې تر آخري دمه ئې دوام ولرلو. د درس نظامي ټول کتابونه او د احاديثو دوره ئې د خپل والد محترم مولانا عبدالجميل په نګرانۍ کښې مکمل کړه. دا ستر عالم د استاد العلماء مولانا لطف الله عليګړي، فخر روزګار شاګردانو کښې يادېدلو او په خپله د دۀ په شاګردانو کښې د هندوستان لوئے لوئے عالمان شامل وو، ځکه چې دے په مدرسه فتح پوري دهلي، مدرسه لطيفيه ويلور او نورو مشهورو ديني درسګاهونو کښې صدر مدرس پاتې شوے ؤ. په دې وجه کله چې مولانا صاحب عنايت الله دارالعلوم ديوبند کښې د شيخ الاسلام مولانا حسېن احمد مدني په خدمت کښې حاضر شۀ او دغلته ئې د باقاعده داخلې او سند ترلاسه کولو مدعا بيان کړه نو هغوی ورته وفرمائيل: هر کله چې تا د مولانا عبدالجميل صاحب نه تعليم حاصل کړے دے نو دغه بس ده، نور څۀ غواړې!؟ يو څو ورځې ئې مولانا مدني سره د مېلمه په حېث تېرې کړلې، بيا هغوي د دارالعلوم د ځينو استاذانو او خاص شاګردانو په مخکښې د مولانا عنايت الله صاحب نه امتحان واخست. د درس نظامي، احاديثو او تفاسيرو بېلو بېلو کتابونو په حواله ئې ترې پوښتنې وکړلې. د مولانا صاحب په جوابونو مطمئن او خوشحاله شو. مولانا حسېن احمد مدني ورته دعا وکړله او د دارالعلوم اعزازي سند ئې پرې پېرزو کړلو، وائي چې دا په دارالعلوم ديوبند کښې د امتحان اخستو ځانګړې واقعه وه.

دغو ورځو کښې مولانا سېد ګل بادشاه صاحب (سابق امير جمعيت العلماء اسلام سرحد) او د يونيورسټي بک اېجنسي مالک (اروابناد) مولانا فضل المنان دارالعلوم ديوبند کښې د مولانا مدني په خصوصي شاګردانو کښې شامل وو. مولانا عنايت الله د خپلو دغو خوږو دوستانو په وسيله مولانا شبير احمد عثماني صاحب سره هم يو اوږد ملاقات کړے ؤ. مولانا صاحب به وئيل، زما مقصد خو د مولانا عثماني صاحب يو نظر ليدل وو او د دعا اخستو په نيت ورتلم. مولانا فضل المنان صاحب ورته تاکيد هم کړے ؤ چې پنځۀ منټه تېر شي نو په خپله به ترې اجازه واخلې. دا نازک مزاج خلق دي او مولانا شبير احمد عثماني سره و زګار وخت هم نۀ وي خو کله چې د مولانا عنايت الله پېژندګلو وکړې شوه نو هغوی ترې پښتونخوا کښې د ازادۍ د جدوجهد په خصوصي توګه د حاجي صاحب ترنګزو او فقير اېپي په حواله معلومات وغوښتل. مولانا صاحب وئيل ما ورته په ماته ګوډه اردو کښې بيان شروع کړو. مولانا شبير احمد عثماني پکښې دومره دلچسپي واخسته چې مجلس کښې دوه درې ځله د قهوې دورونه وچلېدل او د پنځو منټو ملاقات د نيمې ګېنټې نه هم زيات شۀ.

غوږ مې نيولے ستا خبرو ته دے
غوږ مې نيولے دے ښۀ وايه کنه

(ايوب صابر)

د عالم دين په حېثيت مولانا عنايت الله صاحب د طورو "جمعية الابرار" (۱۹۳۵ء) نه واخلې جامعه اسلاميه اکوړه خټک، مدرسه اسلاميه عربيه

مردان، مدرسه عربيه خاکسار منزل کښې انتظامي او درسي خدمات ترسره کړي وو. طورو کښې چې د نوابانو کورنۍ خان سعادت الله خان د يوې ديني مدرسې جوړولو اراده وکړله نو د مدرسې نوم "سعادت العلوم" تجويز کولو او بيا د اوقافو محکمې سره اړيکو قائمولو کښې هم د مولانا صاحب بې غرضه خدمات شامل وو. د قرآن پاک د ترجمې او تفسير درسونه ئې ورکول. کۀ هغه په هرې پور جبل کښې ؤ، په خاکسار منزل کښې به ؤ او کۀ د خپل کلي محلت "سريخ جومات" (محله صديق خېل) کښې ؤ.

د سياسي ژوند اغاز ئې په باقاعده توګه د خدائي متګار تحريک د سټېج نه کړے ؤ او وړومبے تقرير ئې د ازادۍ په موضوع ؤ. دغه وخت به ئې عمر څوارلس يا پنځلس کاله ؤ. د درس نظامي نه ئې فراغت حاصل کړے ؤ. په دې اړه ئې د ديوبند مشرانو عالمانو مولانا حسېن احمد مدني، مولانا مفتي کفايت الله صاحب او مولانا سعيد احمد غوندې اکابرينو سره د خط و کتابت په ذريعه تماس نيولے ؤ. بلکې مولانا به وئيل چې مولانا سيد ګل بادشاه (طورو سواړيان) مولانا شمس الحق صاحب د رېګي او دوي په خپله وړومبني درې زلمي وو چې پښتونخوا کښې ئې د خدائي خدمتګارانو په مرسته د "جمعيت العلماء هند" دپاره کار کړے دے. د جولائي ۱۹٤٦ء "پښتون" کښې د مولانا صاحب يو مضمون قسطونو کښې چاپ شوے دے. عنوان ئې دے "د جمعيت العلماء هند کارنامې" کوم چې په خپله د مولانا صاحب د علم او عمل يوه علمي ادبي څرګندونه ده.

د ازادۍ او قامولۍ په تحريک کښې داسې نازک او ډېر مهم پړاونه هم راغلي دي او راځي چې ډېر د نامې جامې مشران او "د لارې رفيقان" کله په يوه او کله په بله بانه "د مينې رشتې" پرېکړې او خپلې سياسي وفادارۍ بدلې کړې خو مولانا صاحب په دې لحاظ هم خپله لمن پاکه ساکه ساتلې وه او په ډېر صبر استقامت ئې د ملي سياست په اغزنه لار يون کړے ؤ. بنيادي وجه ئې دا وه چې د خدائي خدمتګارو ټول جدوجهد د قامي خدمت او عبادت درجه لرله. وئيلے شي چې سرصاحبزاده عبدالقيوم، خدائي خدمتګار مشرانو ته په څۀ جوړ دا مشوره ورکړې وه چې پېرنګي د خدائي خدمتګار تحريک چقولو منصوبه تړلې ده نو پکار دي چې د هندوستان يو لوئے سياسي ګوند سره شامل شي. باچا خان دغه وخت په جېل کښې ؤ، خدائي خدمتګار مشران ورغلل او دا مشوره ئې ورته ورسوله. باچا خان مشوره ومنله. اول ئې "مسلم ليګ" سره تماس ونيولو، خو د هغه وخت مسلم ليګ (مولانا محمد علي جوهر) مشرانو "خدائي خدمتګاران" قبول نۀ کړل او کانګرس له چې ورغلل نو په سر سترګو ئې ومنل ځکه چې د دواړو ګوندونو مقصدونه او د فکر لارې واضحه وې. دواړو مکمله ازادي غوښتله او د پېرنګي د غلامۍ د جغ نه ئې خپل څټ خلاصول غرض ؤ. آل انډيا کانګرس ورته غېږ پرانستله او دغسې خدائي خدمتګار تحريک ته د لوئے سياسي ګوند ملاتړ حاصل شۀ. خو ځينو ملګرو د دې اقدام شديد مخالفت وکړو او خدائي خدمتګارو پسې دا پروپېګنډه عامه شوه چې دا د هندوانو ملګري دي.

حالانکـه د هندوسـتان نـور مسـلمان او مـذهبي ګوندونـه هـم د ازادۍ پـه جنـګ کښـې د کـانګرس کلـک ملګـري وو او پـه خپلـه پـه کـانګرس کښـې د مسلمانانو داسې عظيم شخصيتونه شامل وو چې د هغوي په کارنامو مسلمان امت فخر کولے شي او لکـه څنګـه چـې اګـاهو دا خبـره وشـوه چـې د دې فيصلې کولو په وخت باچا خان په جېل کښې ؤ... خېر نو مخالفانه پروپېګنډه هم ښه په زور کښې شوه. د ازادۍ يو مجاهد شاعر محمد اکبر خادم دا ټپه پورته کړله:

باچا امام زهٔ مقتدي وم

ګاندي امام شهٔ څکه ځان له نېت تړمه

دې ټپـه کښـې د عـام اولـس دپـاره يـو جذباتي کشش ؤ خو سوال دا دے چې د مخالفت فائده چاتـه ورسېدله او د مخالفت کوونکو انجام څهٔ شهٔ؟

محمـد اکبـر خـادم پـه دغـه شـور ماشـور کښـې طورو ته راغلے ؤ. خانانو، نوابانو سره ئې ملاقاتونه وکړل. بيا زمونږ حجرې تـه د کـورنۍ مشـرانو سـره خبرو اترو له راغـے والـد محتـرم (عنايت الله صاحب) ورله مېلمستيا وکړه. د خادم بابا خبـرو تـه ئې غـوږ نيولے ؤ. په دغه موقع خادم بابا يو اعتراف کړے ؤ. وئيل ئې:

يـوه ورځ باچـا خـان لار کښـې مخـې لـه راغـے د خدائي خدمتګارو جلوس ورسره روان ؤ ما ورته غږ وکړو "باچاخانه! دا قام چرته بيائې؟"

(دا يوه ذومعني جمله او طنز ؤ)

باچا خان ورتـه لـه ورايـه لاس پـه تندي کېښـود او په قلاره لهجه کښې ئې ورته ووې : "مونږ په خپله لار ځو ته په خپله لار ځه! " بحث نهٔ کوو (هذا فراق بيني و بينک)

زمونږ د کورنۍ مشـرانو تـه دا و اقعـه يـاده وه، خبرو خبرو کښې خادم محمد اکبر دا هم ووې چې:

"د اختلاف رائې باوجود، کهٔ چرې ما هره ورځ د سحر په دعا کښې دا سړے (باچا خان) نهٔ وي ياد کړے نو الله مې دې ونهٔ بخښي..."

دې وېنـا سـره د خـادم بابـا سـترګې لـه اوښـکو ډکې شولې... ولې د دې واقعې مهمه برخه مونږ تـه د مولانـا صـاحب د وفـات نـه پـس معلومـه شـوه چې نـامتو شـاعر او اديـب لطيـف وهمـي صـاحب د ورځپاڼـه غـازي پېښـور پښـتو اېډيشـن چلـونکي د غمـرازۍ اداريـه وليکلـه. لطيـف وهمـي صـاحب د محمد اکبر خادم د خُلې ګواهي ورکوي چې طورو کښې د ملاقات په وخت ما زلمي عنايت الله صاحب ته ووې: دا تا پکښې څهٔ شور جوړ کړے دے وايـه تهٔ به اوس کوم خوا ته ځې؟ نو هغهٔ راتـه پـه جواب کښې داسې پرېکړې خبره وکړه چې بلا ورځې ئې کروکور کړے وم او په ذهن کښې به مې لکه د ازغي چوکه چوکه کېدله. وئيل ئې:

(مولانا عنايت الله): خادم صاحب! زهٔ خو د خپل پلار پـه وصيت عمل کوم د قامي خدمت پـه جذبـه خـدائي خـدمتګار تحريـک سـره ملګـرے يـم. د عقيدې زنځير مې په پښو کښې پروت دے، تاسو سياسي مشـران يئ، د وخت تقاضـو سـره چلېـدے شئ، د سياست باد چې په کومه خوا الوځي تاسو ورسره خپله مخه هغه شان بدلولے هم شئ. زهٔ داسې نهٔ شم کولے. باچا خان ته کهٔ زما ضرورت نهٔ هم وي خو زهٔ به ورسره ملګرے يم. زهٔ چې ترې جدا شم نو تحريک به "جاهلانو" ته څنګه وسپارم-!؟

د ښـاغلي لطيف وهمي د وېنـا مطـابق څکـه نو خادم بابا وئيل چې:

مولانا عنایت الله یو نېک، شریف عالم دے. یو کرۀ پښتون هم دے. داسې سکوټ جواب ئې راکړو چې ډېرې ورځې خپل ځان کښې ناقلاره وم.

په زړۀ مې یو لالے ځائېږي
درمن خو نۀ دے چې غوبل به پرې ترمه

مولانا عنایت الله صاحب په عملي توګه ټول په ټول "خدائي خدمتګار" ؤ. هغۀ باچا خان د پښتون ملت یو رښتونے او عظیم محسن (خواخوږے) ګڼلو چې الله تعالي د جرأت او استقامت، فهم او فراست په ټولو صفتونو نمانځلے ؤ. د هندوستان مسلمان لارښودانو کښې دا درویش ملنګ او پښتون مشر. د هر قسمه "مصلحتونو"نه پاک، بې داغه او د سپېځلي کردار څښتن ؤ. په دې اړه مولانا صاحب د باچا خان د ژوند او جدوجهد، سیرت او کردار ښۀ ژوره او د نزدې نه کتنه لوستنه کړې وه نو ځکه ئې په خپله هم زړۀ مطمئن ؤ او د نورو خلقو تسلي به ئې هم کولې شوه. مولانا صاحب له هم الله پاک داسې خوئي ورکړے ؤ چې کۀ د الزامونو او تهمتونو د کاڼو باران به ورېدلو خو دې به د مینې او وروروليِ چترۍ په سرنیولے، په تللو قدمونو مسکے مسکے روان ؤ.

باچا خان به د خپل تقریر په اخر کښې یوه دعا کوله چې یا الله زما دې قام له پوهه ورکړې چې دوي خپل ځان وپېژني. د دوي د زړونو نه دا بُغض، حسد دا دشمني او تربګني وباسې. په دوي کښې مینه محبت او وروروليِ پېدا کړې چې د دوي خپل کور جوړ شي. ربنا ظلمنا...الخ

مولانا عنایت الله صاحب د باچا خان د دغه الهامي دعا یو ژوندے تصویر او عملي تفسیر ؤ.

هغۀ په علمي او اولسي دواړو سطحو د پښتون قام داصلاح او لارښودنې وظیفه ترسره کوله.د خدائي خدمتګارۍ بنیادي پېغام دغه دے. مولانا صاحب تمامي عمر، د پښتنو کورنۍ مسئلو او شخړو هوارولو ته وقف کړے ؤ. ډېرې لوئې او ناکاره خانداني دشمنۍ ئې په دوستۍ او وروروليِ کښې بدلې کړې دي. حالانکې مولانا صاحب سره د خپل علم، ذهانت او فراست نه علاوه نور هېڅ دولت یا زور طاقت نۀ ؤ. د قامي خدمت دې جذبې د طورو د سترو سترو عالمانو په موجودګۍ کښې، والد محترم ته یو ځانګړے مقام وربخښلے ؤ. دا مقام د هغه همځولو عالمانو مولانا سېد ګل بادشاه صاحب، مولانا حافظ محمد ادریس او مولانا حافظ عبدالنبي صاحب هم منلو او خپلو مشرانو مولانا لطف الرحمان صاحب او مولانا سېدامین الحق به ئې هم ډاډګېرنه کوله او خلقو ته ورپېښو د دین دنیا مسئلو هوارولو کښې به ئې د مولانا عنایت الله په رائې اعتماد کولو. د قاسم (طورو) کلي مولانا حقاني صاحب (مرحوم) زما د یوې پوښتنې په جواب کښې د طورو د عالمانو تذکره کوله او د دوي د علم تجزیه ئې کوله نو د والد محترم مولانا عنایت الله پحقله ئې ووې.

"عمر کښې زما نه لږ کشر ؤ، خو علم ئې پوخ ؤ. دۀ د خپل پلار مولانا عبدالجمیل صاحب نه سبق وئیلے ؤ، د خطابت په فن کښې ښۀ مړنے ؤ او هرې موضوع ته به ئې ذهن حاضر ؤ، حافظه ئې تېزه وه، ټول اسلامي تاریخ ورته یاد ؤ. زمونږ نه چې څوک د فقهې د مسئلې تپوس وکړي نو بیا ورپسې کتابونه

لټوو، عنایت الله صاحب به په روانه کښې د سترګو په رپ کښې مسئله حل کړله. بله دا چې د عام اولس په ژبه او نفسیاتو پوهېدلو، ځکه نو د جرګو مرکو سړے ؤ. د شمنو تربګنو ختمولو او روغه جوړه راوستو کښې هغه ته لوئے کمال حاصل ؤ... الله تعالي دې وبخښي (آمین)

چې د خلقو نېک خواهي لرې په زړۀ کښې
مبارک شه بادشاهي لرې په زړۀ کښې

(خوشحال بابا)■